PSDP

لویدیځ جرمني

# پښتون

بنسټ ایښودونکی : باچاخان

ګڼه (۷) کال ۱۹۸۹ ع میاشت فروري

تل به په لاره د میړنو شمه زه ځم
یمه پښتون د پښتنو شمه زه ځم
څو چې راغونډ په یو مرکز ئې نکړم
هرې ټپې ته د جرګو شمه زه ځم
وائي اغیار چې د دوزخ ته به د زه
زه به جنت له د پښتنو شمه زه ځم
حمزه "شنواری"

د ګل غوټۍ کونړۍ تهیمزنه

## د پښتو د لغتونو پانګې ته د ژبپوهنې له اړخه لنډه کتنه

پښتو یوه لرغونې ژبه ده چې د لغتونو غنمه پانګه لري
د ژبپوهنې له پښلیک څخه څرګندېږي چې پښتو
ژبه ځانته ځانګړي لغات او اصطلاګانې لري
او په دغه لرغونې ژبه کښې هر یو شي ځانته نوم لري
او د یوې ځانګړې ژبې لغات بلې ځانګړې ژبې
ته راانتقالول ټیک کار نه دی ځکه چه د نورو ژبو
لغات مونږ نن ورځ په پښتو ځانګړې ژبه کښې
استعمالوو. او یوه مکمله ژبه نیمګړې مینځ ته راولو.
پښتو ژبه ډېر لغتونه لري او خپله اړتیا پخپله پوره
کولی شي لکه د انار میوې ته په پښتو کښې دوه نومونه
شته دي. تریو انار ته په پښتو ژبه کښې "انزګومې"
وائي او خوږ انار ته په پښتو ژبې کښې "انزه"
وائي. او همداسې د ناک میوه په پښتو ژبه کښې
د څو بېلو بېلو نومونو سره نکلې ده. هغه ناک چه ژر
پخېږي هغې ته پښتو ژبه کښې "ماموسې"
وائي. هغه ناک چه ډېر وخت کښې پخېږي، هغه
"تانزه" وائي. لوی ناک ته په پښتو
ژبه کښې "پړاوو" وائي او کوچني ناک
ته "ښتکا" وائي. دغه ډول په لرغونې
لغات مو د پښتو د غرنیو اوسیدونکي څخه لاسته
راوړي دي. د پښتونخواه د غرنیو سیمو اوسیدونکو
په تېره بیا د کونړ د غرنیو سیمو پښتنو ټول خپله ژبه
سپیڅلې ساتلې ده. او د نورو ژبو د لغاتو
رانیستل ئې په خپله پښتو ژبه کښې نه دي کړي.
ټول د خپلې ژبې د لغاتو ویونکي دي او د خپلې ژبې
لرغونتیا ئې ساتلې ده. که چېرې مونږ د خپلې پښتو
لرغونې ژبې د ژبپوهنې پېښلیک ته پام راوګرځوو
و به وینو چه مونږ د دغه سپیڅلې لرغونې ژبه ډېر
پخوانی لرغونتوب لري. په پای کښې وایو چه نه دی
او په مخ وړاندې دې داوي نه مونږ لرغونې پښتو ژبه.

> ځما د پاره د افغانستان خاوره او استقلال
> د حرمت نه مقدس دی.
> غازي امان الله خان

ټیکونکي ستوري

# ملي شاعر ملنګ جان

وائي:

که خوار د یروي اسوده د بلې په غېږ کښې
دادي وګنې پښه د یوه خان یم
پښه هم سېرې ساتې د نه په مینه
خود دي مېنې انجام ته نه حیران یم



ملنګ جان

د ملک عبدالشکور خان ځوی وار د ننګرهار د بهسود د چمیار په کلي کښې په ۱۲۹۳ هـ ش کال کښې ځیږیدلی دی. د ده اصلي نوم محمد امین و او کورنۍ به د مینې له مخې امین جان باله.

روسته دی د ملنګ جان په نامه مشهور شو او بیا یو کال د جلال اباد په امنیه کښې او بیا دوه نیم کاله د کونړونو په لویه اولسوالۍ (چې اوس سوبه یا ولایت دی) کښې کوتوالی (سپاهي) و. د دې څخه وروسته ئې په خپل کلي کښې مزدوري او بزګري (د هقاني) کوله. په دغه ټوله موده کښې به ئې ملي ټولنیز او سیاسي شعرونه ویل او د سندرغاړو د لارې به په اولس کښې خپریده او په دې توګه به ده په پښتنو کښې سیاسي بیداري او د پښتنو د ازادۍ غورځنګ غښتلی کاوه. د دې کار د هغه وخت افغاني حکومت ډیر وار خطا کړ د دې د پاره چې د ملنګ جان داسې شعرونه چې د دوی د سیاست او رضا مخالف وی په اولس کښې خپاره نشی نو ملنګ جان ئې په ۱۳۳۲ هـ ش کال کښې کابل ته راوغوښت او د کابل په راډیو کښې د پښتو د موسیقي د منتظم په توګه مقرر کړ او

ملنګ جان د لیک اولوست څخه بې برخې پاتې شوی و او بیا زئ قرآن شریف ئې لوستلی و خو په ۱۳۲۸ هـ ش کال کښې ورته یو ښوونکي پیدا شو او په شپږو ورځو کښې د ومره لیک زده کړ چې خپل شعرونه ئې پخپله لیکلي او لوستلی شو. وروسته ئې بیا پخپله پاملرنه سره لیک ښه شو او پښتو کتابونه ئې په اسانۍ سره لوستلی شو.
دا چې د ملنګ جان په شعرونو کښې د وطن مینه او د پښتنو د ازادۍ جذباتو غورځنګونه وهل او دغه جذبه ورځ په ورځ زیاتیده کومه چې د هغه وخت د افغاني واکمنو خوښه نه وه نو په ۱۳۳۴ هـ ش کال کښې د کابل د راډیو څخه لیرې کړ د ۱۳۳۶ هـ ش کال د لړم د میاشتې په لسمه نیټه هغه وخت چې دی د خپلې کورۍ سره ننګرهار ته روان و د لته بند په کزلیچو کښې د دوی موټر د لارې څخه واوښت او ملنګ جان د خپل د ری نیم کلن ځوی د واجان سره یو ځای مړ شو. ویل کیږي چې د موټر په اوختلو کښې د هغه وخت افغاني واکمنو لاس درلود. ملنګ جان د چمیار د کلي په هدیره کښې ښخ دی او د شنا ختی په ډېره ئې د ده دا شعر لیکل شوی دی.

**د محبوب وطن په غېږ کښې ارام پروت یم**
**لکه طفل چې اوده غېږ کښې د مور وي**


Sozialdemokratische Organisation
der Paschtunen e.V.
(Mitglied der Pashtoons Social Democratic Party)
Postfach 101526
5000 Köln 1
West Germany

خپرونکی
او
زمرواي :

دخپرونې اوکتنې د جرګې مشی :

M. Scherien
Breslauer str- 21
2160 STADE
W. Germany
Tel: 04141 - 46214


## غمرازي

د پښتنو ټولنیز اولسونږ ګوند د خان سایلي
سره د ضعف د پلار د وفات د کبلا خواخوږي
ښکاره کوي. او د خدای لښلي روح ته دعا کوي

## نوي خبرونه

خبریال . هدایت الله بنگښ

پېښاور ـ د پښتونخوا ستر لیکوال، شاعر فیلسوف او سیاستمدار اجمل خټک وروسته د پنځلس کلونو څخه د کابل څخه اکوړه خټک ته لاړ ـ ویل کیږي چه د ده د کورني پښتونخوا د قومي مشرانو او اولس له خوا تود هرکلی وشو ـ



د پښتون سوشل ډیموکریټک گوند غړي د دې گوند مشر اجمل خټک سره لیدل کیږي ـ په عکس کښي: د نبي بلوڅخه، علي خان محسود، اجمل خټک کبیر ستوري او جلیل خان ـ

کولن ـ د پښتونخوا د ټولنیز او لسولیز گوند (PSDP) د لویدیز جرمني د څانگه د مشرانو ټاکنه په ۲۷ جنوري ۱۹۸۹ کښي وشوه ـ د (PSDP) مشر کبیر ستوري چه د گوند د لویدیز جرمني د څانگې لومړني مشر هم و په فیصله د غړو د عمده کښي تائید شو ـ د گوند د لویدیز جرمني څانگې دویم مشر هدایت الله بنگښ او دریم مشر محمد جلال الدین و ټاکل شول ـ

ووپرټال ـ (غربي جرمني) د گوند لومړي مرستیال علي خان محسود د پښتون اخبار د نماینده سره په یو بیان کښي وویل چه داد شکر ځای دی چه شورويانو ځواکونه د افغانستان د خاورې نه ووتل ـ وړ حکومت سوونکي ډلو او مرور افغاني ډلي ته اپیل وکړل ـ چه د ورونو جوړي د لارې د افغان مسئله حل کړي ـ او ورسره ورسره په افغاني ښارونو لوباندي د لوغندو ویشتلو باندي سخته اندیښنه ښکاره کړه ـ چه بې گناه افغانان ښځې او ماشومان یکښي مړي ـ او د افغاني حکومت نه غوښتنه وکړه ـ چه دغه ټول سیاسي بندیان چه د ډیر وخت نه زندانونو کښي دي ـ د انساني بنیادونو او د افغانیت د خاطره خوشي کړي ـ

### وطنه

محمد شیرین گردیوال

وطنه ستا په مینه غوړم چه لوڅه وبیکم
کله نا کله تال د خیال کښي شمه غرق وایم لوڅه ولیکم
دستا د مینې تصورمې په زړه لیک دی نه ورانیږي
دا تصورمې کړی فریاد وائي خه خوا زه او څه ترڅه ولیکم
دنیا د چاله ډکه شیطانان هره خوا ناست دی
دستا په آزادۍ مې دی قسم وایم هرڅه ولیکم
آخر به شي آزاده ای د پلار نیکه کور گیه
هر څو که دی د ظلم دوری توري په ونکه ولیکم
اوږ شمه، لمبه شمه چي مې ستا و خواته پام شي
حال او مامې لا نه شي ښانه وړکه اندیښنه ولیکم
ترڅو چي تندۍ ستا و جودما ته هرڅه دی
وایم د الهوتی کنه والئ دی د ظلم و په تخته ولیکم
کونه دی او که بردا یو دي سره دوا یوه
که په مینه پښتنو لواله ورته قوم او قبیله ولیکم
زړونه مو نږدې دي ښانږدي کړئ پښتني مینې
وائې وو گردیوال، چه پښتني مینې اتره ولیکم

# د باچا خان يو ليک د بچو په حقله

سابرمتي
سنټرل جيل - احمد آباد
۱-۵-۱۹۳۵

## خوږه وروره خوشاله اوسې !

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته .

ته به خبر شوی يې چه په هزاري باغ جيل کښې ما خطونه ليکل بند کړي وو . په دې وجه مې تا سره خط وکتابت جاري ونه ساتلې شو . څه وخت چه زه دهغه ځايه رها شوم ، نوهغه وخت زما زړه غوښتل چه تا ته خط وليکم . ليکن ستا پته راته هېره شوې وه . څه وخت چه عليګړ ته لاړم نو ستا وروډسره مې ملاقات وشو . دهغه نه مې ستا پته معلومه کړه . چه ديو پې د دوړې نه واپس وارد هاته لاړم نو فوراً ګرفتار شوم . په دې وجه مې بيا تا ته خط ونه ليکې شو . مهربانا جه چه څه وخت د ولايت نه واپس راغله ، نوهغه وخت زما دا خيال وچه تا ته يو خط وليکم چه ستاسو د کوز جينکۍ ، که چېرې مناسب ګڼې ، نو مهربانې سره دې يو ځای تعليم حاصل کړي . ليکن معلومه نه وه چه تا به زما دې رايې سره اتفاق کړې وَ او که نه ؟

زما خيال ورځ په ورځې د جينکو تعليم او تربيت طرف ته زيا تيږي . ولې چه زه دا خبره د خپل قوم دپاره خطرناکه ګڼم چه هلکانوله خو دې تعليم ورکړی شي او جينکۍ دې د علم نه محروم پاتې شي . چه د دې نتيجه به داوي چه زمونږ هلکان خوبه اول جاهلانو ښځو سره ودونه نه کوي او که چېرې وهم کړي نو اکثر به يې کورهمون نه خوري او هميشه به پکښې کشمکش وي . چه د دې نه زمونږ ملک ته او قوم ته ډيولوی نقصان د رسيد و انديشه ده .

د دې دپاره ما غوښتل چه ستاسو د کور جينکۍ هم مهرباجي سره دې تعليمي خدمت دپاره تيارې کړم . او کار زمونږ د اميرانو خلقو په لوږې توجه سره کيدې شي . د زياتي ليکلو ضرورت نه ګڼم . ولې چه

ته پوه يې ، صرف دومره عرض کوم چه زما په دې تجويز باندې غور وکړه او د دې متعلق را ته خپله رايه وليکه . بله خبره زما دا هم ده چه زمونږ په قوم کښې دا يوه ډېره د نقص خبره ده چه هغوی جينکۍ په ډېروکوالي ورکوي او جينکوله دا موقع نه ورکوي چه هغوی په خپله خوښه باندې واده وکړي او يا که نه غواړي نو نه دې کوي . د دې متعلق زما دا رايه ده چه دا رسم هم پرېښودل په کار دي . او که چېرې ټول خلق يې پرېښودو ته تيار نه دي نوکم از کم تعليميافته خلقوله پرېښودل په کار دي . او هغوله په کار دي چه د ټولونه اول خپلو بچوله تعليم ورکړي او دهغوی د اخلاقي تعليم او تربيت خاص خيال وساتي او څه وخت چه هغوی د نسبق نه فارغه شي نو د هغوی د مرضا مطابق د هغوی په معاملاتو کښې هغوی سره د هر قسم امداد وکړي . زما په زړه کښې نورې هم ډېرې خبرې دي . ليکن فی الحال زياتي ليکل مناسب نه ګڼم . هسې نه چه در باندې بوج شي .

اميد دی چه تاسې ټول به په خيريت سره يئ . د کور ټولو لويو وړو کوته مې سلام او مينه . ټولو دوستانو ته مې سلام .

زما طبيعت د آب وهوا او تنهايۍ په وجه اکثر ښه نه دی .

دعا کوئ او دعا به کوم . فقط .

ستا عبد الغفار



په عکس کښې کېڼ پلو ته خان عبد الصمد خان اڅکزی په منځ کښې باچا خان او ښي پلو ته د اکبر خان د (باچا خان مشر ورور) لـــيدل کـيـږي

## په جرمني کښې " پښتون رسالې" د چاپ په هکله يادونه:

په کال 1928ع د مۍ په مياشت کې باچا خان بابا "پښتون رساله" جاري کړه، چې کله به اووه ورځنی، کله لس ورځنی، کله مياشتېنۍ او کله به درې مياشتنۍ خپريدله.
په 1930ع کې چې باچا خان بابا بندي شو، نو پښتون رساله هم بنده شوه، چې بيا د1931ع کال د مۍ په مياشت کې ښاغلي عبدالخالق خان خليق ته حواله شوه .
کله چې رساله په ډسمبر کې چاپ شوه، نو بيا بنده شوه ، په کال 1938 ع کې يو ځل بياجاري شوه او په1941ع کې بنده شوه، په 1945 کې بيا خپره شوه او د پاکستان دجوړيدو سره سم بيا بنده شوه، چې دا لړۍ (سلسله) همداسی وغزېده

پدې ترڅ کې د « پښتون رسالې» دبنسټ ايښودونکي (باني) فخرافغان باچا خان بابا په غوښتنه او دپښتنو ټولنيز ولسوليز ګوند د مشر ډاکترکبير ستوري په لارښونه د پښتون سوشل ديموکراټيک پارټۍPSDP په المان کې د پښتون رسالې خپرولو ته ملا وتړله اوپه 1981 ع کال کې ئې يوه ځانګړې ګڼه په الماني ژبه هم چاپ او خپره کړه.
په 1982 ع کال دمارچ په مياشت کې ئې لمړنۍ ګڼه ، چې اخباري بڼه ئې لرله چاپ اوتيته (خپره) شوه.
د 1995 ع کال تر جنورۍ ئې تر يولسمې ګڼې پورې چاپ او خپرې شوې
درنښت
نصير ستوری